د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت
Office of Deputy PM for Economic Affairs
د مطبوعاتو ریاست



د ریاســـت الوزراء اقتصادي مرســـتیال: نړۍ دې د تحریمونو او فشارونو پرځای له اسلامي امارت سره اقتصادي اړیکې پراخې کړي

پیشنهاد انتقال آب از دریای کنر تا بند درونته قابل تأیید دانسته شد

ولې اســـلامي امارت له پاکستان سره د سوداګریزو لارو پرانیستلو ته بېړه نه لري؟

THE NEED FOR ALTERNATIVE TRADE ROUTES FOR AFGHANISTAN

# اباد ي

میاشتنی

۹ گـــــنه

قوس - ۱۴۰۴ ل.ل
پرلہپسې ۲۴مه گڼه

د الله تعالی ډېر شکر ادا کوو چې افغانستان اوس داسې هېواد دی چې د خپلو صادراتو او وارداتو لپاره بېلابېلو لارو او دهلیزونو ته لاسرسی لري، تړوله تکیه مو یوازې په یو ځانګړي هېواد نه ده او د ســـیمې او ګاونډیو هېوادونو سره مو د تېر په پرتله ســـوداګریز مناسبات او اړیکې په مراتبو پیاوړي ســـوي دي. د لارو دا تنوع موږ په عملي توګـــه له اقتصادي او سیاسي فشارونو ژغوري. د لارو د تنوع او مناسبو پالیسیو په وسیله الله تعالی له هغه حالته ایستلي یو چې د یوه مسیر له بندېدو سره به مو په هېواد کې د موادو قیمتونه پورته سول او پر ولس به فشار راتلی.

الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند

# ABAADI

@FDPM_AFG
dpmea.gov.af
@FDPM_AFG

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت

Office of Deputy PM for Economic Affairs

د مطبوعاتو ریاست


بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العالمين، والصلاة والسلام
على سيدنا محمد وآله وصحبه أجمعين

# ابادي

میاشتنی


۹ گڼه

قوس - ۱۴۰۴ هـ.ش

پرله‌پسې ۲۴مه گڼه

| | |
|---|---|
| **د امتیاز خاوند:** | د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت |
| **کتنپلاوی:** | مولوي عبدالله عزام، مولوي ذبیح الله ناصر، امان الله حنیفي فضل ولي شیراني او نجیب الله مایار |
| **مسئول مدیر:** | مولوي خالق داد تقي |
| **ډیزاینر:** | عطاءالرحمن سعید |
| **فوتوژورنالیست** | حجت الله قاضي زاده |



مرمرینه ماڼۍ، ملک اصغر څلورلارې، کابل

0202107500

media@dpmea.gov.af

dpmea.gov.af



- د مجلې له مقالو او انځورونو څخه ګټه اخیستنه د سرچینې په ذکر کولو سره جواز لري.
- استفاده از مقالات و تصاویر مجله با ذکر مآخذ مجاز است.

# لړلیک


| | |
|---|---|
| سـرلـیـکـنـه | ۱ |
| غـونـډې | ۲ - ۷ |
| د اقتصادي پروژو د پرمختګ راپورونه | ۸ - ۱۳ |
| د اقتصادي موضوعاتو اړوند مقالې | ۱۴ - ۲۱ |
| English Section | 1 - 5 |




## سرلیکنه

اســـلامي امارت د اقتصاد محوره سیاســـت په غوره کولو او د اقتصادي ودې له پاره د معیاري میکانیزمونو په رامنځته کولو سره تـــر دې مهاله توانیدلی دی چې د هېواد اقتصاد تر ډېره بریده په پښـــو ودروي. په دې ټول پوهیږو چې اسلامي امارت داســـې مهال واک ته ورسېد چې د افغانستان اقتصاد په ټپه ولاړ و، ددې ترڅنـــګ د هېـــواد نور ســـکټورونه له اقتصادي ستونزو سره مخ وو، د پرمختګ هېڅ ځرک نه تر سترګو کېده. په ځنګ کـــې یې نړیوالـــې ټولنې د دې پر ځـــای چې له افغانستان سره مرسته وکړي، برعکس پر افغانستان یې مالي او بانکي بندیزونه ولګول. تر ټولو مهمه د افغانانو هغه شتمني وه چې کنګل شوه. خو اســـلامي امارت په ټول توان سره هڅه وکړه چې د بندیزونو د منفي اغېزو له منځه وړلو له پاره بله لار پیـــدا کړي څو له هغـــې لارې وکـــولای شي اقتصادي ثبات رامنځته کړي. په دې برخه کې بریالی شـــو او دا دی اوس په پرله پسې ډول معتبر نړیوال سازمان خپله پر دې اعتراف کوي چې د اســـلامي امارت په راتګ سره د افغانســـتان اقتصاد له نزولي حالته وتلی او صعودي مسیر یې خپل کړی دی. ډېری نړیوال سازمانونه د افغانستان په پرمختګ سترګې پټوي، خو ځینې اوس نه شي کولای پر دې سترګې پټې کړي او حقایق نړۍ ته ښـــکاره نه کړي. زموږ د دې ادعا ښـــه ثبوت همدا د نړیوال بانک وروستی راپور دی چې ډېر واقعیتونه پکې ویل شوي دي. د نړیوال بانک په وروستي راپور کې ویل شوي، چې د افغانستان اقتصاد د پرله‌پسې دویم کال لپاره د پرمختګ په لـــور روان دی، چې پـــه ۲۰۲۵ میلادي کال کـــې د هېواد ناخالص کورني تولید وده ۴.۳ ســـلنه ده، په داسې حال کې چې دا کچه په ۲۰۲۴ کال کې ۲.۵ سلنه وه. په دغه راپور کې دا هم ویل شوي چې د انفلاسیون ټیټه کچه، د افغانۍ ثبات او د خدماتو او صنعت په برخو کې د فعالیتونو زیاتوالی د دې ودې مهم لاملونـــه دي. دغه بانک زیاته کړې چې د وچکالۍ سربېره، افغانستان د کرنې په برخه کې د اوبیزو غنمو تر ټولو زیات حاصلات ترلاسه کړي چې د کرنیز سکټور د پیاوړتیا نښه بلل کېږي. د کانونو او ودانیزو فعالیتونو پراختیا هم د هېواد په اقتصـــادي وده کې مهم رول لوبولـــی دی. له دې څخه دا په ډاګه شوه چې د افغانستان اقتصاد ورځ تر بلې مخ په غوړېدو دی. د اســـلامي امارت له لوري چې کـــوم اقتصادي پلانونه چمتو او عملي کېږي، پایلې یې مثبتې دي. د کورني ناخالص تولید کچې لوړوالی، د انفلاسیون ټیټوالی، د کرنې، صنعت او دې تـــه ورته نورو برخو کې رامنځته شـــوي پرمختګونه ټول د همدې پلانونو او پالیسیو برکت دی. که چېرې په همدې ډول اقتصادي وده په راتلونکو کلونو کې ولرو، ډېر ژر به افغانستان د یوه خپلواک او پر ځان بســـیا اقتصاد څښتن او هېواد به له اقتصادي پلوه په ســـیمه کې د یـــوه اقتصادي قدرت په توګه راڅرګند شي.



د اقتصادي کمېسیون، ملي تدارکاتو کمېسیون
تخنیکي او پانګونې بین الوزارتي کمېټو

# غونډې



# له سعودي عربستان او چین سره د افغانستان ګډ اقتصادي کمېسیونونه فعالېږي

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د قوس میاشتې په څلورمه نېټه د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډه ترسره شوه. غونډې ته له سعودي عربستان او چین سره د افغانستان د اقتصادي کمېسیونونو د فعالېدو او په دې کمېسیونونو کې د نویو غړو د زیاتېدو موضوع د بحث لپاره وړاندې شوه. له هراړخیز بحث وروسته د یادو کمېسیونونو بیا فعالېدل تایید او نوي غړي ور زیات شول. دغه کمېسیونونه به د افغانستان او یادو هېوادونو ترمنځ د دوه اړخیزې سوداګرۍ، په افغانستان کې د پانګونې او ګډو اقتصادي همکاریو په اړه همغږي لا پیاوړې کړي. همدارنګه، په غونډه کې صنعت‌کارانو او پانګوالو ته د بلخ ولایت د حیرتان صنعتي ښارګوټي د ځمکو د ورکړې په اړه د ټاکل شوې کمېټې راپور وړاندې شو. د راپور له اورېدو وروسته پرېکړه وشوه، چې د حیرتان صنعتي ښارګوټي ځمکې دې لومړی د ادارو تر منځ د ملکیتونو په معلومولو سره تصفیه شي. همداراز دې په ورته وخت کې د کور او ښار جوړولو وزارت د موجوده تاسیساتو په پام کې نیولو سره د یاد ښارګوټي لپاره اصلاحي انکشافي پلان هم جوړ کړي. په غونډه کې د کونړ ولایت د سرکانو ولسوالۍ د سکندره سیمې د نفرایټو د ظواهرو د قرارداد ورکړه او د بلخ ولایت په مرکز مزارشریف ښار کې د پنځه پوړیز سوداګریز مارکېټ د جوړولو طرحه هم تایید شول. یادې پرېکړې د نهایي تصمیم نیونې په موخه د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه‌الله تعالی دفتر ته واستول شوې.

# کمیسیون تدارکات ملی ۱۱ پروژه را به ارزش حدود ۱,۵ میلیارد افغانی منظور نمود

جلسهٔ نوبتی کمیسیون تدارکات ملی به ریاست محترم ملا عبدالغنی برادر آخند، معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء، بتاریخ ۱۱ قوس ۱۴۰۴ خورشیدی، برگزار شد. در این جلسه، ۳۰ پروژه جهت منظوری ارائه شد.

پس از بحث همه‌جانبه ۱۱ پروژه به ارزش یک میلیارد و ۵۳۸ میلیون افغانی منظور شد و در ۱۵ پروژه تعدیلات به میان آمد. همچنان قرارداد یک پروژه فسخ ، یک پروژه اعاده و در مورد دو پروژه به کمیته‌های مربوطه وظیفه سپرده شد تا در این مورد بررسی همه‌جانبه را انجام داده و نتایج آن به رهبری کمیسیون تدارکات ملی ارائه نمایند.

پروژه‌های منظورشده شامل،لات نهم تحکیمات یتیم‌تپه در ولسوالی درقد ولایت تخار، ترمیم رنوی میدان هوایی غور، قراردادهای حفظ و مراقبت میدان هوایی بین المللی کابل، ساخت بیش از ۱۷ کیلومتر سرک دهنهٔ غوری در ولایت بغلان، ساخت سرک زرگران - گردیز در ولایت پکتیکا، خریداری تجهیزات معدنی برای شرکت امارتي معادن ذغال‌سنگ شمال، خریداری وسایط مورد نیاز شرکت امارتي افغان تور، ساخت و نصب سب‌استیشن‌ها از قرباغ و مقر تا شاه جوی، پروژهٔ برق‌رسانی، نصب و مونتاژ ولسوالی موسهی کابل و قرارداد سروی، دیزاین و تست سب‌استیشن ۲۲۰ کیلوولت باریکاب ولایت کابل اند. پروژه‌های منظورشده از سوی امارت اسلامی افغانستان تمویل می‌گردند.





# د کاني موادو د کیفیت معلوملو لپاره
## د پرمختللو لابراتوارونو جوړېدل د تایید وړ وبلل شول

د اقتصادي کمېسیون د تخنیکي کمېټې نوبتي غونډه د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د قوس میاشتې په ۱۷مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ جوړه شوه. غونډې ته د کانونو او پټرولیم وزارت له لوري په کابل او ولایتونو کې د کاني موادو د کیفیت معلوملو لپاره د پرمختللو لابراتوارونو د جوړېدو موضوع د بحث لپاره وړاندې شوه. له هراړخیز بحث وروسته یاده موضوع د تایید وړ وبلل شوه او د نهایي تصمیم په موخه اقتصادي کمېسیون ته راجع شوه. د دغه لابراتوارونو لپاره ۲۳۳ میلیونه افغانۍ بودیجه په پام کې نیول شوې، چې ۱۵ میلیونه افغانۍ به یې په ساختماني چارو او ۲۱۸ میلیونه افغانۍ به یې په پرمختللو او په نوې ټکنالوژۍ سمبال تجهیزاتو ولګول شي.

همداراز په دې غونډه کې پر یوشمېر نورو موضوعاتو هم بحث وشو او په اړه یې لازم تصامیم ونیول شول



# پیشنهاد انتقال آب از دریای کنر تا بند درونته قابل تأیید دانسته شد

جلسه نوبتی کمیته تخنیکی کمیسیون اقتصادی به تاریخ ۲۴ قوس ۱۴۰۴ خورشیدی در قصر مرمرین برگزار شد. در این جلسه، پیشنهاد انتقال آب از دریای کنر به کاسه بند درونته از مسیر بخش پایینی دشت گمبیری، جهت بحث ارائه گردید. پس از بحث همه‌جانبه، این پیشنهاد قابل تأیید دانسته شد و جهت تصمیم‌گیری نهایی به کمیسیون اقتصادی راجع گردید. با انتقال آب از دریای کنر به بند درونته، مشکل کمبود آب بسیاری از زمین‌های زراعتی ولایت ننگرهار حل خواهد شد. همچنان در این جلسه، پروژه بخش پنجم سرک حلقوی ولایت بادغیس (به طول ۲۵ کیلومتر) نیز مورد بحث قرار گرفت. در این مورد، به کمیته موظف وظیفه سپرده شد تا بررسی همه‌جانبه این پروژه را انجام داده و گزارش آن را در جلسه آینده کمیته تخنیکی کمیسیون اقتصادی ارائه نماید.



# په سرپل او جوزجان ولایتونو کې د سوداګریزو مارکېټونو د جوړولو پر طرحو بحث وشو

د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې نوبتي غونډه د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د قوس میاشتې په ۲۵مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شوه. دې غونډې ته د سرپل ولایت په ګوسفندي ولسوالۍ او د جوزجان ولایت په مرکز کې د سوداګریزو مارکېټونو د جوړولو طرحې د بحث لپاره وړاندې شوې. له مفصل بحث وروسته ټاکلې شوې کمېټې ته دنده وسپارل شوه، څو د یادو طرحو هراړخیز تحلیل ترسره او راپور یې په ټاکلې نېټه د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې ته وړاندې کړي.



# د اقتصادي پروژو

## د پرمختگ راپورونه

# د مالیې وزارت او ډي پي ورلډ شرکت ترمنځ
# د پانګونې شرطپاڼه لاسلیک شوه

د مالیـــې وزارت او ډي پي ورلډ شرکت ترمنځ د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د قوس میاشـــتې په ۱٦مه نېټه د ریاســـتالوزراء په اقتصادي معاونیت کې د پانګونې شرطپاڼه لاسلیک شوه. د ریاســـتالوزراء اقتصادي معاونیت د دفتر عمومي رییس مفتي عبدالله عزام په همدې مناســـبت جوړو شوو مراســـمو ته وویل، دغه شرطپاڼه به هغو تړونونو او بهرنۍ پانګونې ته لار هواره کړي، چې له مخې به یې د هېواد سوداګریز بندرونه عصري او په نوې ټکنالوژۍ ســـمبال شي. ښـــاغلي عـــزام زیاته کړه، د یـــادې شرطپاڼې پـــه رڼا کې به راتلونکي تړونونه د دې ورتیا ولري، چې په اړوندو بندرونـــو کـــې د ســـوداګریزو توکو د انتقـــال لپاره تاسیســـات پراخ، عملیاتي او مدیریتـــي چارې به د پرمختللو تجهیزاتو پر مټ ترسره او ټول فعالیتونه به د نړیوالو معیارونو مطابق ترسره کېږي. د دې شرطپاڼې پر بنســـټ به پـــه لومړي پـــړاو کې د افغانســـتان او ازبیکستان ترمنځ د حیرتان بندر په دوهم پړاو کې به د افغانســـتان او پاکســـتان د فرضي کرښې پر سر د تورخم بندر په عصري وســـایلو ســـمبال او زېربنایي چارې به یې د نړیوالو معیارونو سره سمې عیارې شي. وروســـې به دا لړۍ د هېواد نورو لوژســـتیکي لیکو، اقتصادي زونونو او ملي پروژو ته پراختیا پیدا کړي.



د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال:

# نړۍ دې د تحریمونو او فشارونو پرځای له اسلامي امارت سره اقتصادي اړیکې پراخې کړي

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د قوس په ۲۹ مه نیټه په بلخ ولایت کې د یوه سوداګریز مارکېټ د کار د پیل په مراسمو کې د خبرو پرمهال د سیمې او نړۍ له هېوادونو وغوښتل چې د تحریمونو او بې ځایه فشارونو پرځای دې له اسلامي امارت سره اقتصادي اړیکې نرمې او پراخې کړي. نوموړي زیاته کړه چې په سیمه کې یو هوسا او پیاوړی افغانستان د نورو هېوادونو په زیان نه دی؛ بلکې د نورو هېوادونو له هوساینې او پیاوړتیا سره مرسته کوي. محترم حاجي ملا صاحب وویل: اسلامي امارت د سیمه ییز او نړیوال مشارکت په برخه کې په هر اړخیز اقتصادي او سیاسي اصالت باور لري؛ مگر دا چې لویو ارزښتونو او اصولو ته متقابل احترام موجود وي. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال زیاته کړه د عامه او خصوصي مشارکت او یا نورو قراردادونو له مخې د خصوصي سکټور سره د سترو اوږدمهاله پروژو په برخه کې د اسلامي امارت تعامل د دې واضح پیغام ورکوي چې په افغانستان کې د داخلي او بهرنۍ پانګونې لپاره زمینه مساعده ده او هر څوک کولی شي چې له دې فرصت څخه ګټه واخلي.

په مزارشریف کې دا اته پوړیز سوداګریز مارکېټ چې د ۷۴۳ میلیونه افغانۍ په پانګونه د ارشاد،حج او اوقاف وزارت په ٦٠٠ متره مربع ځمکه جوړېږي، ۸۷۰ دوکانونه، څلور رستورانتونه، یو مېلمستون، جومات او پارګېنګ پکې په پام کې نیول شوي دي. د دغه مارکېټ ساختماني چارې به په دوو کلونو کې بشپړې او هر کال به د امارت خزانې ته ۴۳ میلیونه افغانۍ د کلنۍ اجارې په توګه ورکول کېږي.



## د کابل ختیځ پُل‌چرخي سیمه کې د برېښنايي دروازې(ټولگیټ) د جوړېدو چارې ۲۵ سلنه بشپړې شوې

د ریاست‌الوزراء اقتصادي معاونیت تخنیکي ټیم د ۱۴۰۴ لمریز کال د قوس میاشتې په ۱۱مه نېټه د کابل ختیځ پُل‌چرخي سیمه کې د برېښنايي دروازې(ټولگیټ) د جوړېدو چارې له نږدې وڅارلې. د ترانسپورټ او هوايي چلند وزارت مسوولینو وویل، د دغه برېښنايي دروازې د جوړېدو چارې د روان کال د سنبلې میاشتې په نهمه نېټه پیل شوې او اوسمهال ۲۵ سلنه بشپړې شوې دي. د دوی په وینا، د دې پروژې د تطبیق لپاره یو کال وخت په پام کې نیول شوی دی. اوسمهال یې د ټولو معیارونو په پام کې نیولو سره چارې په ښه ډول روانې دي. د ریاست‌الوزراء اقتصادي معاونیت تخنیکي ټیم د دې پروژې د لا ښه تطبیق په موخه په یوشمېر برخو کې خپلې سپارښتنې د ترانسپورټ او هوايي چلند او قراردادي شرکت له مسوولینو سره شریکې کړې او ټینگار یې وکړ، څو د معیار او کیفیت په پام کې نیولو سره یې چارې په ټاکلي وخت بشپړې کړي. همدارنگه د قراردادي شرکت مسوولینو هم د استملاک، شنې ساحې او یوشمېر نورو برخو کې شته ستونزې شریکې کړې او د ریاست‌الوزراء اقتصادي معاونیت تخنیکي ټیم یې د حل ډاډ ورکړ.

دغه برېښنايي دروازه د کابل ښار په پُل‌چرخي سیمه کې په ۱۱.٦ جریبه ځمکه جوړېږي، چې ۱٦۲ میلیونه افغانۍ لگښت پرې راځي. په دې برېښنايي دروازه کې له کابل ښار څخه د وتلو او ښار ته د ننوتلو لس لینه سړک، ټول پلازا، اداري تعمیر، مسجد، رسټورانټ او د موټرونو تمځای په پام کې نیول شوي دي.



# کابل و تهران همکاری‌های خود را در بخش تولید ادویه و وسایل طبی گسترش می‌دهند

محترم ملا عبدالغنی برادر آخند، معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء، بتاریخ ۱۲ قوس ۱۴۰۴ خورشیدی در دفتر کارش با مهدی پیرصالحی، معاون وزارت صحت ایران و رئیس ادارهٔ غذا و دوا و همچنان با علی‌رضا بیکدلی، سفیر ایران در افغانستان، دیدار نمود. در این دیدار، معاون وزارت صحت ایران گفت که ایران آماده است همکاری‌های خود را با افغانستان در بخش تولید ادویه و وسایل طبی و همچنان افزایش صادرات آن به افغانستان، برای درازمدت گسترش دهد. معاون اقتصادی ریاست الوزراء با ابراز امتنان از جانب ایرانی، اطمینان داد که امارت اسلامی افغانستان و نهادهای مربوطه در این زمینه با آنان همکاری کامل و کار مشترک خواهند کرد.



# د ۲٦ زره متریک ټنه په ظرفیت
# د ۲۲ سړو خونو د جوړېدو چارې روانې دي

د افغانستان اسلامي امارت د کرنیزو محصولاتو د خوندي ساتلو په موخه د هېواد په مختلفو سیمو او ولایتونو کې د سړو خونو جوړول پیل کړي دي. د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت د معلوماتو پر اساس، اوسمهال د هېواد په ۱۲ ولایتونو کې د ۱۴ سړو خونو د جوړېدو چارې روانې دي، چې هره خونه په ځانګړې ډول ۱۵۰۰ او په مجموعي ډول ۲۱زره متریک ټنه ظرفیت لري. د دې ترڅنګ، د هېواد په شپږو زونونو کې هم د ۸ سړو خونو د جوړېدو چارې پیل شوې چې په مجموعي ډول ۵۰۰۰ متریک ټنه ظرفیت لري. د کرنې وزارت د معلوماتو له مخې، په پام کې ده چې په راتلونکي کې په کابل او بلخ ولایتونو کې د چین سره په ګډه د تازه میوو او سبزیجاتو د ساتلو لپاره ۳ سړې خونې جوړې شي، چې هره خونه به ۱۵۰۰ متریک ټنه ظرفیت ولري. د دې خونو د چارو په بشپړېدو سره به د کرنیزو محصولاتو په ځانګړې ډول د تازه میوو او سبزیجاتو د ساتلو په برخه کې د بزګرانو ستونزې د پام وړ راکمې او دغه توکي به د اړتیا په صورت کې په مناسب قیمت بازار ته وړاندې شي. د یادونې وړ ده چې د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت، د صنعت او سوداګرۍ وزارت او همدارنګه د خصوصي سکټور له لوري د زرګونو متریک ټنه په ظرفیت په بېلابېلو سیمو کې ډېرې سړې خونې جوړې او ګټې اخیستنې ته سپارل شوې دي، چې اوسمهال پکې تازه میوې او نور کرنیز محصولات ساتل کېږي. اسلامي امارت هڅه کوي چې په ټول هېواد کې د بزګرانو اړتیا ته په کتو مجهزې سړې خونې جوړې کړي.





# مقالي

## د اقتصادي موضوعاتو اړوند

# نشست اخیر فورم دوحه؛
## تأکید شرکت‌کنندگان بر سیاست تعامل با افغانستان

نجیب الله

در این مقاله روی بحث های نشست اخیر فورم دوحه، تغییر موضع شرکت‌کنندگان این نشســـت در مورد افغانســـتان و فرصت های جدید برای افغانستان بحث شده است.



## مقدمه

فورم دوحه با اشـــتراک نمایندگان ۱۶۰ کشور از نقاط مختلف جهان در قطر برگزار شد. در نشست‌های اخیر این فورم، افغانستان بار دیگر به موضوع مهم بحث‌های بین‌المللـــی تبدیل شـــد. نمایندگان امارت اســـلامی افغانستان نیز در این نشست حضور داشتند. نمایندگان وزارت خارجه افغانستان که در این نشست شرکت کرده بودند، می گویند که در نشست فورم دوحه، سخنرانان و شرکت‌کنندگان درباره تعامل افغانستان و جامعه جهانی دیدگاه مشترک داشتند. آنان می‌افزایند که در روز دوم این فورم، توجه شرکت‌کنندگان بیشتر بر تعامل مثبت و اقتصادی با افغانستان متمرکز بود. به گفته نمایندگان امارت اســلامی افغانســـتان در این نشســـت، شرکت کنندگان وضعیـــت کنونی افغانســـتان را یک فرصت دانســـته‌اند. بحث‌های پایانی فورم نشان می‌دهد که جامعه جهانی بـــار دیگر بر اهمیـــت تعامل، گفتگو و همکاری تدریجی با افغانستان تأکید دارد. این دیدگاه تنها بخشـــی از گفتگوهای نشست نیست، بلکه نتیجه تحول سیاست جهانی، تغییرات جغرافیوی منطقه و فشار ضرورت های کشورهاست. در این نوشته، به طور مختصر درباره بحث‌های صورت گرفته در این نشســـت در مورد افغانستان و اهمیت آن برای کشور صحبت خواهیم کرد.

## نشست اخیر فورم دوحه

نشست فورم دوحه از ششم تا هشتم دسمبر سال جاری میلادی در قطر با حضور نمایندگان بیش از ۱۶۰ کشور جهان برگزار شـــد. در این نشســـت، سخنرانان شامل عبدالحی قانت، رئیس مرکز تحقیقات استراتیژیک وزارت خارجه امارت اسلامی افغانستان، عصمت‌الله ایرگاشف، نماینده ویژه رئیس‌جمهور ازبیکستان برای افغانستان، الدور اریپوف، رئیس تحقیقات استرا تیژیک و منطقه‌ای ازبیکستان ، ولید زاید، استاد پوهنتون جورج‌تاون قطر، و زهرا بابـــر، مدیر اجرایی مرکز تحقیقـــات بین‌المللی و منطقه‌ای پوهنتون جورج‌تاون قطر، بودند.

در اجندای این نشست، افغانستان به عنوان قلب ثبات آســـیای میانه و جنوبی معرفی شده بود و گفته شده که صلح، تجارت و اتصال منطقه‌ای در این کشور می‌تواند آینده کل منطقه را تغییر دهد. در روز دوم نشست، تحت عنوان « بهبود افغانســـتان از مسیر اتصال منطقه‌ای »، درباره مسائل مربوط به افغانستان گفتگو شد. سخنرانان این بخش شامل عبدالحی قانت، رئیس مرکز مطالعات اســـتراتیژیک وزارت خارجه امارت اسلامی افغانستان، عصمت‌اللـــه ایرگاشـــف، نماینده ویـــژه رئیس‌جمهور ازبیکســـتان برای افغانســـتان، الـــدور اریپوف، رئیس تحقیقات استراتیژیک و منطقه‌ای ازبیکستان، و شماری دیگر بودند. این نخســـتین بار است که یک نماینده از وزارت خارجه به نمایندگی از امارت اسلامی افغانستان در این نشست جهانی ســـخنرانی می کند. در دومین نشســـت فورم دوحه، تحـــت عنوان «تقویـــت اقتصاد افغانستان از مسیر اتصال منطقه‌ای»، درباره افغانستان بحث شد. از بحث های این نشست به وضوح دیده می شد که جهان در تعامل اقتصادی با افغانستان به نتایج مطلوب دست یافته اســـت؛ اما رویکرد تهدیدآمیز هیچ نتیجه‌ای نداشـــته است. پس از به قدرت رسیدن دوباره امارت اسلامی، کشورهای منطقه دو رویکرد متفاوت را اتخـــاذ کرده‌اند: یکـــی رویکرد امنیت‌محور اســـت که افغانستان را از منظر تهدیدات امنیتی قدیمی می‌بینند، و دیگری رویکرد اقتصادمحور است که با افغانستان برای ادغـــام منطقـــه‌ای تعامـــل می کند. امارت اســـلامی افغانستان با اتخاذ سیاست اقتصاد محور تلاش کرده که با تمامی کشـــورهای همســـایه و منطقه روابط متقابل اقتصادی مبتنی به احترام متقابل تأمین نموده و روابط تجارتی را افزایش دهد. یکی از این کشورها پاکستان

است که به گفته رئیس مرکز مطالعات استراتیژیک وزارت خارجه افغانستان، اختلافات میان افغانستان و پاکستان برای منطقه بسیار حیاتی است، زیرا این مسئله مسیر جنوبی منطقه را می‌بندد. افغانستان با پاکستان روابط ناگسستنی دارد و به همین دلیل ضروری است که این روابط بهبود یابد. کشوری دیگر منطقه که افغانستان را به عنوان تهدید نمی‌بیند، بلکه آن را یک فرصت می‌داند ازبیکستان است. بر اساس این دیدگاه، مقامات این کشور گفته که در همه زمینه‌ها با افغانستان همکاری دارد. زیرا به نظر آنان بدون توسعه، امنیت ممکن نیست و بدون امنیت، توسعه هم امکان‌پذیر نیست. به همین دلیل ازبیکستان اکنون با افغانستان همکاری گسترده دارد و امنیت بخش مهمی از این همکاری است. نماینده کشور میزبان این نشست نیز بر تعامل با افغانستان تأکید کرد. وزارت خارجه قطر، گفته که آن‌ها در این زمینه گام های اساسی برداشته و در حل مسائل باقی‌مانده میان افغانستان و پاکستان نقش پیشتاز دارد. به نظر مقامات قطر ، این کشور تلاش دارد که شبکه گفت‌وگوها همیشه باز نگه میدارد و اکنون قطر نه تنها میزبان فرآیندهای هدایت‌شده جامعه جهانی است، بلکه میزبان گفت‌وگوهای دوجانبه میان افغانستان و کشورهای ثالث نیز می‌باشد. در این نشست، علاوه بر مسائل مربوط افغانستان، درباره موضوعات جهانی دیگر نیز بحث شد، از جمله جنگ غزه، اوکراین، وضعیت خاورمیانه، تنش‌های ایران و اسرائیل و نگرانی‌های مربوط به تجارت جهانی.

## تغییر موضع شرکت‌کنندگان نشست دوحه در مورد افغانستان

بحث‌های پایانی فورم دوحه نشان می‌دهد که جهان بار دیگر درک کرده است که بدون توجه به موقعیت استراتیژیک، اهمیت امنیتی و وضعیت بشری افغانستان، ثبات منطقه ممکن نیست. از این رو، نهادهای اقتصادی بین‌المللی بر این باورند که افغانستان باید به جای انزوا، بخشی از شبکه اقتصادی منطقه باشد. بحث‌های فورم دوحه نشان می‌دهد که جامعه جهانی اکنون به جای سخت‌گیری، به سمت واقعیت‌گرایی حرکت کرده است و با پذیرش مجموعه‌ای از واقعیت‌ها به این نتیجه رسیده است که باید با افغانستان تعامل شود. این واقعیت‌ها میتوان به شرح ذیل یاد آوری گردد : افغانستان پس از سال ۲۰۲۱ سقوط نکرده است؛ برعکس، ثبات تحکیم یافته و امارت اسلامی که بر تمامی کشور تسلط دارد، عملاً ثابت کرده است که می‌تواند امور کشور را مدیریت کند. همچنین کشورهای منطقه (چین، ایران، روسیه، پاکستان و کشورهای آسیای میانه) خواستار روابط عملی با افغانستان هستند. نرمش در مواضع این کشورها نیز به معنای اعتراف و پذیرش واقعیت‌هایی است که قبلاً درباره آن دیدگاه متفاوتی داشتند، مانند حرکت از فشار به تعامل؛ زیرا قدرت‌های جهانی چهار سال گذشته تلاش کردند سیاست افغانستان را از طریق فشار تغییر دهند، اما ناکام ماندند. همچنان ، امارت اسلامی افغانستان هیچ بدیل ندارد، زیرا گروه‌های دیگر در افغانستان امتحان داده‌اند و ظرفیت آن را ندارند که بدیل امارت اسلامی شوند، و جامعه جهانی نیز ظرفیت مداخله تازه را ندارد؛ بنابراین تنها راه، تعامل است. کشورهای منطقه نیز به جای سیاست فشار، خواستار تعامل هستند، زیرا آنچه آنان می‌خواهند، امارت اسلامی افغانستان عملاً در داخل کشور انجام می‌دهد. به عنوان مثال، چین نیازمند تأمین امنیت مسیرهای تجارتی خود است، روسیه خواستار امنیت آسیای میانه و مقابله با داعش است، ایران خواستار تجارت است، کشورهای آسیای میانه به حفظ فعال بودن مسیرهای

ترانزیتی نیاز دارند. بنابراین وقتی منطقه خواهان تعامل باشد، قدرت‌های جهانی توان مخالفت خود را از دست می‌دهند. از سوی دیگر، جهان هم‌اکنون با مشکل بزرگ مهاجرت روبه‌رو است و در صورت ایجاد هرگونه بحران بشری در افغانستان یا کشورهای همسایه، این مشکل تشدید می‌شود. با تحکیم حاکمیت امارت اسلامی در افغانستان، تا حد زیادی این مسئله نه تنها حل گردیده بلکه هر روز هزاران هموطن از کشورهای همسایه به وطن خود بازمی گردند.

## این نرمش چه امتیاز یا فرصت‌هایی برای افغانستان دارند؟

با نرمش و تغییر مواضع کشورهای منطقه و در نتیجه جامعه جهانی در مورد افغانستان، این فرصت برای افغانستان فراهم می‌شود تا به تعامل با کشورهای منطقه روی آورد. پیام فورم دوحه بسیار واضح است: جهان افغانستان را رها نمی کند، اما می‌خواهد به صورت تدریجی، حساب‌شده و مسؤلانه با آن پیش رود. در چهار سال گذشته، رویکرد دیپلوماتیک جهانی نسبت به افغانستان به تدریج از محدودیت‌های شدید، فشارها و شک‌ها به سوی تعامل، ارزیابی واقع‌بینانه و توجه به ضرورت ثبات تغییر کرده است. مباحث نشست پایانی دوحه، اظهارات نمایندگان بین‌المللی و مواضع کشورهای منطقه نشان می‌دهد که موضوع افغانستان اکنون بیشتر از زاویه تعامل عملی بررسی می‌شود. این نرمش،اگرچه محدود و مشروط است برای افغانستان فصل جدیدی از فرصت‌ها را باز می‌کند. پیش از این، رویکرد جهانی نسبت به افغانستان بیشتر انتقادی، مشروط و نزدیک به قطع رابطه بود. اما در بحث‌های دوحه، مواضع سخت نرم شده و تعامل بر اساس نیازهای مشترک امنیتی و اقتصادی بین‌المللی مطرح شده است. برای جامعه جهانی نیز روشن شده است که انزوای اقتصادی افغانستان حرکت‌های اقتصادی منطقه را بطی می سازد و راهکار مشارکتی به جای سیاست فشار، تنها راه واقعی بهبود وضعیت بشری است. ثبات وضعیت امنیتی در افغانستان توجه کشورهای منطقه و سرمایه‌گذاران بین‌المللی را جلب کرده و نرم شدن مواضع، فضای اعتماد سیاسی برای پروژه‌های بزرگ را فراهم می‌آورد. افغانستان نقطه وصل آسیای میانه، اسیایی جنوبی و خاورمیانه است و تغییر مواضع منطقه‌ای و جهانی می‌تواند فرصت‌هایی برای افغانستان فراهم کند تا نقش فعال در طرح‌های اقتصادی منطقه‌ای ایفا نماید.

## نتیجه گیری

بحث‌های اخیر فورم دوحه نشان می‌دهد که دیدگاه جهانی نسبت به افغانستان بر اساس واقعیت‌ها در حال تغییر است. هرچند این نرمش هنوز کامل نشده، اما برای افغانستان این فرصت فراهم می‌شود که به‌تدریج خود را از انزوای جهانی بیرون بکشد، همکاری‌های اقتصادی با کشورهای منطقه را گسترش دهد، دهلیزهای اقتصادی دوجانبه و چندجانبه منطقه‌ای را فعال سازد و برای آبادانی کشور، در کنار سرمایه‌گذاری داخلی، سرمایه گذاری خارجی را نیز جذب کند. افغانستان می‌تواند با استفاده از این فرصت و مدیریت درست وضعیت، کشور را به سوی ثبات اقتصادی پایدار سوق دهد و فضای اعتماد برای گسترش تعاملات را ایجاد کند. می‌توان گفت که این یک آغاز تدریجی برای یک تعامل مشروع و پایدار است که زمینه ثبات درازمدت را فراهم می‌سازد و جهان با درک کاملِ واقعیت‌ها، خواسته‌های امارت اسلامی افغانستان را خواهد پذیرفت. امارت اسلامی با تأمین کامل امنیت در کشور، اعتماد مردم را به دست آورده و با اتخاذ سیاست اقتصاد محور، خواهان روابط متقابل همکاری با کشورهای همسایه و جهان است.

# ولې اسلامي امارت له پاکستان سره د سوداګريزو لارو پرانيستلو ته بېړه نه لري؟

زاهد خليلي




په دې ليکنه کې د هغو ځو مهمو دلايلو په اړه خبرې کېږي چې ولې تر اوسه اسلامي امارت له پاکستان سره د لارو بيا پرانيستو هوکړې ته نه دی رسېدلی

نږدې دوه میاشــتې کېــږي چې د افغانســتان او پاکستان ترمنځ ســوداګري او ترانزیټ په بشپړ ډول درېدلي او په ډېورنډ کرښــه پرتې ټول ســوداګریزې لارې تړلې دي.

پاکستان د افغانستان په اســلامي امارت باندې تور لګوي چې د پاکستاني طالبانو تحریک (TTP) ملاتړ کوي. هغه ډله چې په وروســتیو میاشــتو کې یې په پاکســتان کې بریدونه زیات کړي دي. خو اسلامي امارت دغه تورونــه ردوي او ټینګار کوي چې دوی د هېڅ هېواد په کورنیو چارو کې لاسوهنه نه کوي او نه یې د پاکســتاني طالبانو غړو ته پناه ورکړې. اسلامي امارت زیاتوي چــې دوی د "متقابل امنیت" پر اصل باور لري او ورته ژمن دي.

د پاکستاني طالبانو موضوع د افغانستان او پاکستان ترمنــځ په یوې حساســې او لانجمنــې قضیې بدله شــوې، چې په تېرو څو میاشــتو کې یــې د دواړو هېوادونو ترمنځ د بې باورۍ فضا نوره هم پراخه کړې ده. دغه تاوتریخوالي د دواړو لورو د چارواکو ترمنځ د توندو بیانونو لړۍ زیاته کړې ده.

د دواړو هېوادونــو د تجارتي لارو تــړل کېدو له امله زرګونه مسافر او د سوداګرۍ او ترانزیټ موټر په دواړو غاړو کــې بند پاتــې دي، خو د پاکســتاني طالبانو وروستي بریدونه او په قطر، ترکیې او سعودي عربستان کې بې نتیجې خبرې اترې څرګنــدوي چې د دواړو حکومتونو ترمنځ ژور اختلافات موجود دي. پاکستان ټینګار کوي چې پاکستاني طالبان د افغانستان خاوره د بریدونو له پاره کاروي، خو اســلامي امارت دغه ادعا ردوي او وایي چې د پاکستاني طالبانو موضوع د پاکستان داخلي ستونزه ده. دغه اختلاف د بې باورۍ زیاتېدو، د خبرو اترو د پرې کېدو او د لارو د پرانیستو د ځنډ لامل شــوی دی. سربېره پر دې، داسې ښکاري چې اســلامي امــارت په نږدې راتلونکـــي کې د لارو پرانیستو له پاره بیړه نه لري.

د دې څو مهم دلیلونه شته چې ولې تر اوسه اسلامي امارت له پاکستان سره د لارو بیا پرانیستو سمدستي هوکړه نه کوي.

**لومړی:** د اسلامي امارت د ریاست الوزراء اقتصادي مرســتیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ټینګار کــړی چـــې د لارو د بیا پرانیســتو لپــاره باید قوي تضمینونه ورکړل شي. هغه په یوې خبري ناسته کې، چې د حکومت لوړپوړي مسوولین او ګڼ شمېر افغان سوداګر پکې حاضر وو، وویل: که پاکستان غواړي له افغانستان سره لارې بیا پرانیزي، نو باید داسې قوي تضمینونه ورکړي چې دغه لارې به بیا هېڅکله د هېڅ ډول پلمې لاندې نه تړل کېږي.

پاکســتان څو ورځې مخکې وویــل چې غواړي د ملګرو ملتونو د بشري مرســتو له پاره له افغانستان سره لارې پرانیزي، خو د دې راپورونو سمدســتي وروسته، د اسلامي امارت ویاند ذبیح‌الله مجاهد په خپله اعلامیه کې یــو ځل بیا ټینګار وکړ چې لارې به یوازې هغه وخت پرانیستل کېږي چې پاکستان قــوي اطمینــان ورکړي، چـــې دا لارې بــه بیا د سیاسي فشــار، غیر قانوني استفادې او د خلکو د ځورولو له پاره نه تړل کېږي.

**دویم:** په افغانســـتان کې عمومـــي نظر دا دی چې پاکستان د افغانستان د مېوو (انارو، انګورو او مڼو) په موســـم کې د بېلابېلو پلمو له مخې لارې تړي، څو د افغانستان محصولات د پاکستان او نړیوالو بازارونو ته ونه رسېږي. دغه کار افغان بزګرانو او سوداګرو ته ستر مالي زیانونه اړوي. د پاکســـتان له لوري د لارو تړل نـــوی کار نـــه دی. دا موضوع د اســـلامي امارت او مخکنـــي افغان حکومت په دوران کـــې څو ځله تکرار شوې ده.

اوس داسې ښکاري چې اسلامي امارت هم تر کورني فشـــار لاندې دی او نـــه غواړي داســـې مهال لارې پرانیزي چـــې د افغانســـتان د مېوو فصـــل پای ته رســـېدلی او د پاکســـتان د حاصلاتو موســـم — په ځانګـــړې ډول د کچالو او مالټو (کینو) فصل — پیل شـــوی وي، ځکه افغانســـتان د پاکســـتان د کرنیزو محصولاتو مهم بازار ګڼل کېږي.

د بېلګې پـــه توګه، په ۲۰۲۳ کال کې پاکســـتان د ۱۴۰ میلیونه ډالرو په ارزښـــت کچالو صادر کړي وو چې ۴۱ ســـلنه یې افغانســـتان ته صـــادر کړي وو. همداراز، په ۲۰۲۴ کال کې هم ۴۲ سلنه پاکستاني کچالو افغانســـتان ته صادر شـــوي دي. دا شمېرې ښیي چې افغانســـتان د پاکستان د کچالو له پاره یو ســـتر بازار دی او د اوســـنیو لارو تړل د پاکســـتاني بزګرانو او سوداګرو له پاره ستونزې رامنځته کړې دي.

نو څنګه چې د افغانســـتان د انارو سوداګرو په تېرو میاشتو کې زیانونه ولیدل، اسلامي امارت داسې ګام نه شي اخیستلی چې د افغانستان د خلکو عمومي احساســـاتو سره ټکر ولري او له زیان نه د پاکستان د ساتلو له پاره به د لارو په پرانیستوکې بیړه ونه کړي.

**درېیم:** افغانســـتان اوس د خپلو صادراتو له پاره څو بدیلې لارې پیدا کړې دي. د افغانستان محصولات دا مهـــال د ایـــران د چابهار بندر او د منځنۍ اســـیا د هېوادونو له لارې ګڼو نړیوالو بازارونو ته رســـېږي. په وروستیو ورځو کې د دغو لارو له لارې صادرات زیات شوي او د افغان بزګرانو او سوداګرو زیانونه هغه ډول نه دي، چې په پیل کې یې اټکل کېده.

دغه پرمختګ تر ډېره ګاونډیو او د سیمې هېوادونو ته د صنعت او سوداګرۍ د وزیر الحاج نورالدین عزیزي او نورو امارتي مسوولینو ســـفرونو پورې اړه لري، چې د سوداګرۍ اړیکې یې پیاوړې کړې دي. له همدې امله، افغان بزګران او سوداګر اوس ډېر هیله من دي او تمه لري چې پر پاکســـتان به خپله بشپړه اقتصادي تکیه کمه کړي.

د پاکســـتان په اړه د اسلامي امارت وروستی دریځ او د عادي افغانانو عمومي احساساتو ته په کتو داسې نتیجې ته رسېدلای شو چې اسلامي امارت له پاکستان سره د لارو د بیا پرانیستلو په اړه بېړه نه لري. داسې نه ښکاري چې د دواړو هېوادونو ترمنځ به لارې ژر پرانیستل شي او سوداګري به عادي حالت ته راستنه شي. احتمال شته چې اســـلامي امارت به د پاکســـتان پر ځـــای بدیلو سوداګریزو لارو ته لومړیتوب ورکړي او هڅې به لا زیاتې کړي څو افغانســـتان په بشـــپړ ډول د پاکســـتان له اقتصادي تکیې څخه ازاد کړي.

## Conclusion

For Afghanistan, the importance of alternative trade routes is not merely an economic option but a national necessity. Repeated experiences of route closures by Pakistan have demonstrated that reliance on a single route exposes Afghanistan to serious economic losses, political pressure, export delays, price increases, and trade disruptions. In contrast, Chabahar Port, Central Asian corridors, the Lapis Lazuli Route, air corridors, and other alternatives provide Afghanistan with opportunities for stability, diversification, security, and broader access to international markets. Activating these routes not only prevents transit monopolies but also leads to increased exports, growth in domestic production, strengthening of industry, and higher national revenues. If the Islamic Emirate of Afghanistan seriously pursues effective management, diplomatic efforts, customs reforms, and support for the private sector, Afghanistan can fully benefit from alternative routes, lay the foundation for a secure, stable, and independent economic future, and free itself from reliance on Pakistan.

infographic

# HYDROPOWER GENERATION PROJECTS

The Islamic Emirate of Afghanistan has created excellent opportunities for investment across various sectors. All domestic and foreign investors can invest in these sectors with full confidence. The Islamic Emirate assures all forms of cooperation and support.

| NO. | PROJECT NAME | LOCATION | PROJECT CAPACITY (MW) | ANNUAL POWER GENERATION | EXISTING DOCUMENTS |
|---|---|---|---|---|---|
| 1 | Sortaq Hydropower Project | Kunar | 410 | 1,469 | Preliminary Feasibility Study |
| 2 | Surobi II Hydropower Project | Kabul | 128.3 | 543.63 | Feasibility Study |
| 3 | Gulbahar Hydropower Project | Parwan | 116 | 748 | Feasibility Study |
| 4 | Shal Hydropower Project | Kunar | 798 | — | Feasibility Study |
| | | | | | |



**Note:** All interested investors may submit their investment proposals to the Office of the Deputy PM for Economic Affairs through the following contact details:

**Email:** AIIMC@dpmea.gov.af

**Contact Number:** 0202100976

deliver Afghan exports to global markets. All of these routes are considered essential for a secure, balanced, and reliable future for Afghanistan's trade.

## Closure of Routes by Pakistan

Trade relations and route closures between Afghanistan and Pakistan have a long and complex history. After 1947, Pakistan became Afghanistan's main transit route, and Afghan traders met their commercial needs through the Port of Karachi. Under the Afghanistan–Pakistan Transit Trade Agreement (APTTA) between 1965 and 2010, trade between the two countries continued; however, due to political tensions, mistrust, and disputes over the Durand line, Pakistan repeatedly closed routes to Afghan exports and goods. On many occasions, Afghanistan's fresh and dried fruits and commercial commodities remained stranded at the Torkham and Chaman crossings, causing losses amounting to millions of dollars. After 2021, although trade resumed, Pakistan repeatedly closed routes as a means of security and political pressure. These tensions prompted the Islamic Emirate of Afghanistan to place greater emphasis on alternative routes such as Chabahar, Central Asia, the Lapis Lazuli Corridor, and air corridors.

## Impacts of Route Closures by Pakistan

### *Economic Losses and Delays in Exports:*

Afghanistan's fresh fruits, vegetables, dried fruits, and other exports are time-sensitive. When routes are closed, these goods spoil at the Durand Line, resulting in losses of millions of dollars for traders.

### *Increase in Import Prices:*

Some goods transiting to Afghanistan through Pakistan experience delays due to route closures, leading to higher prices within Afghanistan as transportation is disrupted.

### *Political Pressure:*

Pakistan has repeatedly used route closures as a tool of pressure in the past. This situation forces Afghanistan to rely on a single country and increases the likelihood of political coercion.

### *Risk of Transit Monopoly:*

Dependence on a single route deprives Afghanistan of alternatives during crises, posing a threat to long-term economic security.

## Importance of Alternative Trade Routes

Alternative trade routes hold strategic, economic, and political significance for Afghanistan. When a country depends solely on one route, any political crisis, sanction, or route closure directly and negatively affects the national economy. In contrast, having alternative routes reduces the severity of such challenges and provides stability to trade. Alternative routes expand export markets, reduce costs, and accelerate access to international markets. Chabahar Port, Central Asian routes, the Lapis Lazuli Corridor, railways, air corridors, and the Iran–Turkmenistan routes are key alternatives for Afghanistan that ensure trade diversification. Utilizing these routes prevents transit monopolies, reduces political pressure, and strengthens traders' confidence. Moreover, alternative routes play an important role in increasing transit revenues, boosting exports, lowering import costs, and ensuring a stable supply of raw materials for industry. When trade becomes secure, sustainable, and competitive, domestic production is encouraged and employment opportunities increase. Therefore, alternative trade routes are essential for Afghanistan's economic security and long-term growth.

# THE NEED FOR ALTERNATIVE TRADE ROUTES FOR AFGHANISTAN

Zahid Khan

Alternative trade routes are corridors, ports, and transit pathways that a country uses to diversify its trade, enhance security, increase speed, and maximize economic benefits by relying on multiple routes instead of a single, limited one. The objective of alternative routes is to safeguard exports and imports from political pressure, sanctions, and sudden disruptions by neighboring countries and to create conditions for sustainable trade growth. As a landlocked country, Afghanistan faces persistent challenges when it remains dependent on a single route; therefore, alternative trade routes are of vital importance to the country's economic stability.

At present, Afghanistan has several important alternative routes. First are the Central Asian routes, which, through air, railway, and overland corridors, are highly suitable for exports. Second is Iran's Chabahar Port, which serves as a practical alternative to Pakistani ports and provides direct access to India, the Gulf countries, and other markets. Third is the Lapis Lazuli Corridor, which connects Afghanistan to European markets. Fourth is the network of air corridors that rapidly



# NATIONAL PROCUREMENT COMMISSION APPROVES
## 11 PROJECTS WORTH APPROXIMATELY AFN 1.5 BILLION

On December, 2, 2025, the regular meeting of the National Procurement Commission was held under the chairmanship of Mullah Abdul Ghani Baradar Akhund, Deputy PM for Economic Affairs. A total of 30 projects were presented to the meeting for approval. After comprehensive discussions, 11 projects worth more than AFN 1.538 billion were approved, while a series of amendments were made to 15 projects. In addition, the contract of one project was terminated, one project was reconsidered, and designated committees were tasked with conducting a comprehensive evaluation of two projects and submitting their findings to the leadership of the National Procurement Commission. The approved projects include: the ninth reinforcement lot of Yatim Tapa in Darqad District of Takhar Province; rehabilitation of the runway at Ghor Airport; award of operation and maintenance contracts for Kabul International Airport; construction of more than 17 kilometers of the Dahn-e-Ghori road in Baghlan; construction of the Zargarano–Gardez City road in Paktika; procurement of mining equipment for the Northern Coal Enterprise; procurement of required vehicles for the Afghan Tour State-owned Enterprise; construction and installation of substations from Qurbagh and Muqar to Shah Jui; the power supply of Musahi District of Kabul, including construction materials, installation and assembly; and the surveying, design, and testing contracts for the 220-kilovolt Barikab Substation of the same province. The approved projects are financed by the Islamic Emirate of Afghanistan.

# INVESTMENT TERM SHEET SIGNED
## BETWEEN THE MINISTRY OF FINANCE AND DP WORLD

On December 7, 2025, an investment term sheet was signed between the Ministry of Finance and DP World Company at the Office of the Deputy PM for Economic Affairs. On this occasion, the Director General of the Office of the Deputy PM for Economic Affairs, Mufti Abdullah Azam, stated that this term sheet will pave the way for contracts and foreign investments through which the country's commercial ports will be modernized and equipped with new technologies.

Honorable Azam added that, based on this term sheet, future contracts will have the capacity to expand facilities for the transportation of commercial goods at the relevant ports; operational and managerial affairs will be carried out through advanced equipment, and all activities will be conducted in accordance with international standards.

Under this term sheet, in the first phase, the Hairatan Port between Afghanistan and Uzbekistan, and in the second phase, Torkham Port on the Afghanistan–Pakistan Durand Line, will be equipped with modern facilities and their infrastructure will be adjusted in line with international standards. Subsequently, this process will be expanded to other logistic corridors, economic zones, and national projects of the country.

# KABUL AND TEHRAN EXPAND COOPERATION
## IN THE PRODUCTION OF MEDICINES AND MEDICAL SUPPLIES

On December 3, 2025, Mullah Abdul Ghani Baradar Akhund, Deputy PM for Economic Affairs, met in his office with Mehdi Pir-Salehi, Deputy Minister of Health of Iran and Head of the Food and Drug Administration, and Ali Reza Bikdeli, the Ambassador of Iran to Afghanistan.

During the meeting, the Iranian Deputy Minister of Health stated that Iran is ready to expand its long-term cooperation with Afghanistan in the production of medicines and medical supplies and in increasing their exports to Afghanistan. Deputy PM Mullah Baradar Akhund expressed his appreciation to the Iranian side and assured that the relevant institutions of the Islamic Emirate of Afghanistan would provide full cooperation and engage in joint efforts in the mentioned fields.



# AFGHANISTAN'S JOINT ECONOMIC COMMISSIONS
## WITH SAUDI ARABIA AND CHINA TO BECOME OPERATIONAL

The regular meeting of the Economic Commission, chaired by the Deputy PM for Economic Affairs, Mullah Abdul Ghani Baradar Akhund, was convened on Nov 25, 2025. The meeting reviewed the activation of Afghanistan's joint economic commissions with Saudi Arabia and China, as well as the inclusion of new members in these commissions. Following comprehensive deliberations, the reactivation of the commissions was approved and new members were added. These commissions will further strengthen coordination on bilateral trade, investment in Afghanistan, and joint economic cooperation between Afghanistan and the mentioned countries. The meeting also heard the report of the designated committee regarding the allocation of land in the Hairatan Industrial Park in Balkh Province for industrialists and investors.

After hearing the report, it was decided that the land of the Hairatan Industrial Park should first be regularized through clarification of inter-departmental ownership. At the same time, the Ministry of Urban Development and Housing was instructed to prepare a revised development plan for the industrial park, taking into consideration the existing infrastructure.

Additionally, the meeting approved the awarding of a contract for nephrite deposits in the Sikandara area of Sarkano District in Kunar Province, as well as the proposal for the construction of a five-story commercial market in Mazar-e-Sharif, the capital of Balkh Province.

These decisions were forwarded to the Office of the Esteemed Amir-ul-Mu'minin, Sheikh Sahib (may Allah Almighty protect him), for final approval.

| | |
|---|---|
| **Publisher:** | Office of Deputy PM for Economic Affairs |
| **Editorial Board:** | Maulvi Abdullah Azzam, Maulvi Zabehullah Nasir, Amanullah Hanifi, Fazal Wali Shirani and Najibullah Mayar |
| **Chief Editor:** | Maulvi Khaliq Dad Taqi |
| **English Translator:** | Sajad Ahmad K. |
| **Graphic Designer:** | Ataurahman Saeid |
| **Photojornalist:** | Hujjatullah Qazizadah |

Marmarin Palace, Malik Asghar Square, Kabul

0202107500

media@dpmea.gov.af

dpmea.gov.af

**Please provide proper attribution when using content from this magazine.**